# ځوک چې د الله لپاره حج وکړي، فحشا او بد اخلاقي و نه کړي، نو له حج څخه د راګرځېدو پر مهال به له ګناه څخه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې مور زیږولی و

له ابوهریرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمايي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمایل یې: «ځوک چې د الله لپاره حج وکړي، فحشا او بد اخلاقي و نه کړي، نو له حج څخه د راګرځېدو پر مهال به له ګناه څخه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې مور زیږولی و».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: چا چې د الله لپاره حج وکړ او له رفث څخه يې ځان وساته، چې رفث کوروالي او د کوروالي مقدماتو ته وايي لکه مچې اخيستل او يا لوبې کول، رفث بدې وينا ته هم ويل کيږي، او د ګناهونو او بديو په کولو سره فسق يې ونکړ، او له فسق څخه په احرام کې د منع شوو کارونو کول هم دي، نو له حج څخه به بخښل شوی راوګرځي، لکه ځرنګه چې يو ماشوم له ګناه څخه پاک زيږيږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2758